(c) ketabton.com: The Digital Library 

زړه دا محسوسوم چې زما پلرنی زما په ورانده ولاړه ده او زړه ګیایم
د هغې سره خبرې کوم - او څه وخت چې دیکلو نه اوزګار شم
نو په هغه وخت دا سې تسکین محسوسوم لکه چې ما یو ډیر لوی
کار کړی وي او ددې نه پس یکلي شعرونه بیا بیا لولم او دا بیا
بیا لوستل زما زړه ته هر یو وار یو نوی تسکین ورکوي "

راځئ چې دا اوګورو چې د مغموم د غه اشنا څوک دے
چې د شعر د یکلو په وخت د هغې په تصور کښې د دنیا او ما فیها نه
نا خبره وي - او هغه پلرنی څوک ده چې د شعر دیکلو په وخت
ورته مخکښې ولاړه وي مغموم وائي چې زما په زړه کښې یو
دا سې درد دے چې ددې درد د پیدا کولو نکې نه زه نه یم خبر -
زه نه یم پوے چې زه په چا مئین یم - زه نه یم پوے چې هغه
څوک ده چې د چا یاد زما احساسات او زما زړه هر وخت نا قلاره
ساتي - زما د خیال مرکز دد پیغله " زما په زړه کښې شته - زما په
د ماغ کښې شته خو په سترګو مې لا نه ده لیدلې، ولې بیا هم د هغې
تصور او د هغې یاد ما په وېلو مجبوره وي - ما ته د یکلو بلنه
دا کوي -

د مغموم د خیلو وینا کانو نه هم دا معلومیږي چې د هغه د
شاعرۍ "زړه پیغله" هم هغه د چا زلمي شاعر" د خیال د پلرنی" چې
هغه ئې حُسنِ کل کښې یو عکس دے - خو فرق صرف هم دومره
دے چې د خیال پلرنی د خیالونو نه هم په بره او سیږي او شاعر
ته په طنز یه لهجه کښې وائي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځ چې رنګينې ټولې راغونډې شولې
پېغلو ترې ځان له لوپټې جوړې کړې
لوپټو یادې چې پېغلو سپین پړونې راپه سرکړه
دَ زلموټپره نظر جوړ لوپټوکښې چوکه کېږي

بهرحال خبرې به په لنډو کوو چې دَ مغموم د شاعرۍ زمکه ډېره متینه او نموره وره ده - دا زمکه په یو نظر نه ښيي کچ کېږي - زه دا اعتراف کوم چې دَ مغموم صاحب دَ مکمل جاج له پاره څومره څېړنه او پېلټنه پکار وه ما اونه کړے شوه - ما په دې لنډ تنګ وخت کښې هم دومره کولے شو چې دَ هغهٔ دَ شعر دَ «پېغلې»، دَ مخ نه "لوپټه" نیم کښېوکړم دَ نوې خط وخال جائزه ئې تاسو واخلئ چې د دومان دَ دې شهزاده دغه ناوې څومره شکرپاره، څومره حسن وره ده!

سید صابر شاه صابر
غریب آباد تهکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وے، یوخوا ته دَ مخالفینو ستغي سپورې ځېرې او دَ ګمراهۍ فتوې وې او بل خوا ته به چې زهٔ په مشاعره کښې اودرېدم او دَ غزل مطلع به مې اووئیله چې ....

یو تری دغوندې مُسکا چې شاته په سروشونډو خورېږي
ټول ماحول سرور سرور شي او فضا یوه نغمه شي

نو په هال کښې به یو شور شو هلکانو او زلمو به خپلې ټوپۍ په هوا کښې وا لوزولې او ماله به ئې دومره شابسے راکړو چې دَ نقادانو هغه سپورې ستغې ځېرې به رانه هېرې شوې. دَ ګمراهۍ ټولې فتوې به رانه هېرې شوې او صباله به چې کښېناستم نو یو بل مست غزل به مې اولیکلو یوه سیله جذبات را لوزوونکې مطلع به ذهن ته راغله ـ یو ځل چې د مردان کالج زلموته مې په یوهٔ مشاعره کښې په خپل مخصوص انداز کښې دَ غزل دا مطلع واوَروله نو تاسو یقین اوکړئ چې مېز وسته درزېدهٔ ټوپۍ لړه کېدې لاسونه پړقېدهٔ او زلمو او زلموټو هال په سر راخستے وُ ـ

مطلع داسې وه ـ

ورپسې زلمو ځوانۍ خاورې ایرې کړې
خدائے دې ګوټک کړه څهٔ له پېغلوته ځېرې کړې

زما شاعري سمې ځېرې دي ـ منافقت په کښې نشته ـ ساده ځېرې او ساده شعرونه دي ـ داسې شعرونه چې دَ اورېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه تسکین په میخانو کېږي نه وو
د سرو شرابو په پیمانو کېږي نه وو

اوده جذبې را لړزوونکې اثر
رباب په ستا په ترانو کېږي نه وو

ټول که چاپېره تاوېدل له شمعې
هېڅ رقابت په پروانو کېږي نه وو

ځکه پرې زړه نن بدګمانه شومه
چې تسلسل ئې بهانو کېږي نه وو

د میخوارانو محفل سوړ غوندې وو
نن چې مغموم په میخانو کېږي نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاږه ژړېږي څه مُسکۍ خونه دي
مړاوي ګلونه دي غوټۍ خونه دي

ورته منګل تل وار خطا وي ځکه
دا خاماران دي څه کمټۍ خونه دي

ځکه خو زه داسې بې واره توېږم
اوښکې مې خپلې دي پردۍ خونه دي

څه شوه چې زه ورته ژړېږم مدام
په عشق کښې دا څه کمزورۍ خونه دي

هسې به ژاړې لا مُسېږي ولې
ستړې ناپوهه لېونۍ خو نه دي

